# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مباد بدین بوم و بر زنده یک تن مباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Satire | طنز |
|---|---|

لیکونکی: اسد الهی

نیټه: ۱۹ دسمبر ۲۰۱۵

## دملا عمر او ملا اختر منصور سره اخرنی ملاقات

## خاطری اوپیامونه

مشرملا(ملامحمدعمرمجاهد) چې دپاکستان داستحباراتی اداری له خوا دخپلو جواسیسو شیخ الحدیثانو په مرسته دټولي نړی مسلمانانو امیر وټاکل شو اوبیا دهمدغه اداریې له خوا له سختی شکنجی وروسته دچرګو په مرض مړاومرض یې ساري وګرځیده، نورو طالبانوته څه چې کړي هغه به ربیي مه کوه په چا چې اوبه شي په تا خو داچې زه ددوی معتقدینو له جملې څخه یو یم په نوم طالب سره ډیره مینه لرم بیا چې امیرالمؤمنین شی نو محبت مې په عشق بدلیږی اوعشق هم نهایی مرحلی ته رسیږی دمشر ملا په مړینه اودکشرملا(ملااخترمنصور) په ټپی کیدو اوبیا مړینه باندی یې سخت خوا بدی وم ځکه چې اسلام همدوی ساتلی دی، اوداسلام دژوندی ساتلو له پاره یوه ښه وسیله ، دپاکستان اله ، دامریکا داډو پاتی کیدو ذریعه وه نو د ورځي له خوا داحادیثو له درس څخه فارغ شوم ددوی دمرګ په چروت کې وم خو ذهن مې دانجماد ، طبعیت مې دقبض په حالت کې وه دشپی له خوا مې هم کافي خواړه ونه خوړل خوب مې الوتی و ، هیڅ خوب نه راته داچې سهار راختو ته وخت په نږدي کیدو شوو طبعیت مې په غوړیدو قبض مې د بسط حالت په لور بدلیدو اودخپل روح په لاربښونه مراقبی ته ولاړم په مراقبه کې غرق شوم چې خدای خپل نوریوه برخه پرما باندی نازله کړه چې زه په هغه نور کې ډوپ اوورک شوم او راته وویل شول چرته ځي اوڅه لیدل غواړی ماورته وویل چې دمسلمانانو امیر ملامحمدعمر مجاهد رحمة الله اوملااخترمنصور کشرملا چې داهم دمسلمانانو امیروو ملاقات کول غواړم اودملاقات علت مې ددوی حالات لیدل وو په دغه مرحله کې یو سپین ږیری سړی راپیداشو چې زما ملاقاتونه به یې تنظیم کول هغه راته وویل چې چاسره ګوري ماورته وویل چې لومړی دمسلمانانو امیر سره ویې ویل کوم امیر ماورته وویل ملامحمدعمر مجاهد یعنی مشر ملا کندهاری بیاهم لرپه فکرکې شو بیامې بل وصف وراضافه کړ په یوه سترګه ړوند هغه موسکی شو راته یې وویل راځه له لر مزل وروسته یې

دملاعمرمجاهـــد ســـرته اودرولـــم ورتـــه مـــي ووپـــل اســـلام علـــيکم ورحمـــة الله وبرکاتـــه يـــا اميرالمؤمنين!

پـه دې سـره يـې تنـد راتـه وليدل پـه شـونډو يـې څـه وويـل خـو پـري پوهـه نـشوم ټنـده يـې تکـه تـوره وه راتـه يـې وويـل چـې دتاسـو شـيخ الحـديثانو لـه وجـې دلتـه پـه بـد حالـت کـې ژونـد کـوم مـا يـوازې لمانځونـه زدکـړی وو تاسـو رانـه اميرالمـؤمنين جـوړ کـړ دلتـه چـې لـه ماخخـه پوښـتنه کـوی وايـې چـې سـترګه خوخـدای درنـه اخسـتی وه څکـه چـې پيژنـدلی وی نـو عقـل خـو يـې نـو درنـه اخسـتی چـې دری زره شـيخ الحـديثان درتـه ټـوليږی اوداتـول لـه تـا څخـه ډيـر پـوهيږی يـو هـم اميرالمـؤمنين نـشی کيـدای تـه جاهـل مطلـق ، بـې علمـه اوبـې سـواده تـه داميرالمـؤمنين لقـب درکـوی اوتـا هـم څـومره خوشـاله يـې نـو دا مـې ډيـره سـخته سـزا دی دغـه مـخ مـې ، ټنـده مـې تکـه تـوره کـړی چـې ټولـو انـسانانو تـه مـې وشـرموي اومـاران لړمـاران خـو يـې پريـږده داچـې تـه راتلـی نـو مـخ يـې راتـه سـپين کړ ځای راته بدل کړ.

مـاهم نـوره خبـری ورسـره اوږدول نـه غوښـتل ماورتـه وويـل چـې زه خـو پـه خـدای چـې ډيـر خواشـينی شـوم کينـی زه پـه دې فکرکـې وم چـې پـه جنـت کـې بـه وي سـم ننـی بـه درنـه جـوړ وی اويـا حـوری بـه درسـره وی غلمـان بـه درنـه چارچـاپيره وی مـزی بـه کـوی داراتـه وويـل چـې مـزی نـشته مزي مي په دونيا کي وی دلته .......

ترټـول بـدبختی خـو دادی چـې پـه يـوه سـترګه پـه دونيـا کـې ړونـد وم دلتـه يـې پـه دواړو ړونـد کـړم نـه خـدای کـه جنتونـه ګـورم نـه حـوری اونـه غلمـان اوس ډيـر کـم بـدلون راغلـی دی هغـه داچـې کـوم سـپين ږيـری تـه راوسـتی دارابانـدی مهربانـه شـوی دی راتـه يـې وويـل: چـې پـه زړه کـې دې څـه ارمـان دی، خـو يـو ارمـا ن زه يـې درتـه پـوره کـوم، دويـم دې نـه قبليـږی. ماورتـه وويـل چـې هغـه غلمـان غلمـان ، غلمـان راوليـږه اوسـترګی مـې روغـې کـړه ويـې ويـل سـترګی دی روغـی کـړم اوکـه غلمـان ؟ لـه سـوچ پرتـه مـې وويـل چـې غلمـان نـو يـو هلکـی کلـه کلـه راسـره وی ............بيـامې ورتـه وويـل چـې دلتـه دچـا دلاسـه راغلـی؟ ويـې ويـل چـا چـې رانـه ملامحمدعمرمجاهـد اميرالمـؤمنين جـوړ کـړ اودغـه قاچـاقبر اخترمنـصورلاسه هـم پـه کـې وو. زه يوسـاده بـاده انـسان وم خـدای کـه پـه سياسـت پوهيـدم **خوشـيطانی اداری لـه نـه سـری نـه سـری جـوړه وي اولـه سـری نـه نـه سـری.** ګـوره اشـرف يـې هـم ددونيـا دويـم متفکـر کـړ کينـی پـه عقـل کـې لـه مـا ډيـر نـه پـوهيږی خـو پـه شـيطانت کـې بـه اول نمـره وی ګـوره ملاصـاحب ! اخترمنـصورهم درتـه راغلـی دی تـاپری خبريـې اوکنـه داراتـه وويـل چـې اخترمنـصور پريـږده لـه مـا مـرګ سـره سـم پـه دوی بانـدی دچرګـو مـرض ګـډ شـوی دی دابـه پـه نوبـت مـره کيـږی زه دلتـه پـه سياسـت پوهـه شـوم چـې مـوږ دامريکـا اوپاکـستان ايـران ګټـو لـه پـاره جنګيـدو اوخپـل وطنـوال مـو وژل **خـوزه ډيـر ګيلـه مـن لـه هغوځينـو روشـنفکرو څخـه يـم چـې هغـوی ديـرش کالـه ملـی مترقـی مبـارزه کـړی وه سياسـی کتابونـه يـې لوسـتلي و و او زمـوږ جګـړی تـه يـې داستعمارضـد، ازادی بـښونکی اومـستقله جګـړه ويلـه**تـا دومـره وکـړه چـې زمـا دغـه پيـام ټولـو ژونـديو انـسانانو تـه ورسـوه چـې زمـوږ جګـړه نـه دی ازادی جګـړه دی اونـه داسـتعمار ضـد بلکـې دغلامـی او داسـتعمارله پـاره کومـک کـونکي يـو اواصـلی عـاملان يـې مـوږ وو اونـه مـوږ خپلـواک وو اونـه يـو اونـه پـه نـړی کـې يـو حرکـت چـې اسـلامی پـسوند ولـری مـستقل دی

بلکې له اسلام ویوکي ښخه استفاده کوی. موږ سیاف هم پیژندلی وو خو ځینو روشنفکرانو رانه دفاعه کوله اوموږ ته به داسې ښرګندیده چې موږ خو نه پوهیږو خوداچې دغه روشنفکران رانه دفاع کوي نو برحق یوو په بحث بحث کې مې پوښتنه ترینه وکړه چې کومو روشنفکرانو درنه دفاع کړې دی اوروشن فکرتا چاته وایې؟

داراته وویل چې تاه هم لکه نشه یې شراب دې خوړلی دی اوکه چرس دې وهلی دی ؟ درته مې وویل چې ځینې هغه خلک چې ملی مترقی مبارزه یې کړې هغوی ته زه روشن فکره وایم له دوی پرته نوره کتع اوبتع دی ما ورته وویل چې **همدغه خلک هغه مهال روشن فکره وو چې دخلکو سره یې پیوند وی اودخلکو منافع په نظر کې ونیسی نه داچې دارتجاع پلوی شی اوچې ښوک دارتجاع پلوی شي نو هغه هم دهغوی په کتاګوری کې شمیرل کیږی**نو بناء دغه خلک به هم تاسو ......وي بیا یې راته وویل چې دافغانستان اداره دموږ په ښیر جاهلو او په موجوده بیروکراټانو نشی جوړیدای ځکه چې دوی هیواد ته دیو هوټل په سترګه ګوري چې شپه په کې وکړي اوسبا تري ځي همدغسی کوټه چټله پریږدی لکه ښرنګه چې موږ وکړل نو ترښوپوري چې په واقعی مانو خلکو ته حکومت په لاس ورنشی ډیرامیرالمؤمنین به جوړشي کمپنی هم دافغانستان سره نږدی دی اوجوړول یې هم کوم مشکل نه دی.

په دغه مهال سپین ږیری راته وویل چې بس دی وخت دې پوره شو که غواړی اخترمنصورسره هم وګوره بیا زموږ پروګرامونه پیل کیږی ملااخترمنصور ته یې وروستلم هغه ته مې وویل چې واه امیرالمؤمنین !لوی قاچاقبرښرنګه دې حالات دی داراته وویل چې اول سلام بیا کلام ماورته وویل تراوسه نه یې اصلاح شوی ته سړیتوب لری چې سلام درکړم دغه شکل ته دې وګوره خباثت دې وګوره غلامی ته دې وګوره له ته خو ملامحمدعمر ښه وو یو ښه رښتیا خو یې وویل سلام مې ځکه درنکړ چې ته ډیرحرامونی وي. غوښتل یې چې دملامحمدعمر په سرنوشت مې اخته کړی برګ برګ یې راته ولیدل. سپین ږیری ورته وویل له ځانه سړی جوړه کړه کینی. دمیلما په وړاندی دې شرموم نو سرېې ښکته واچوه.

ورته مې وویل چې دتاسو په اړه مشرملا هم راته ټول حالات وویل خو داراته ووایه چې دمشرملا په مړینه کې دې ښه ګټه وه ؟ ماته یې ولیدل ویې ویل **چې نادرخان ولی کلکانی چې اعتماد یې په قسم کولو جوړکړ وواژه ؟ میرویس نیکه ګورګین ولی په اعتماد کې وواژه؟ او امین ولی خپل استاد تره کی په بالښت باندی وواژه؟ مشرف ولی دری طالبان دسولی په نوم راوستل اوبیا یې اعدام کړل اوبهانه یې داوکړه چې دایو نظامی تکتیک وو که دافغانستان تاریخ ته په سمه مانا وګورو تحقیقات وکړو خبره به سرچپه کیږی**نوره زه نوی دلته راغلی یم ماغزه مې ځای ته نه دی راغلی نو خلکو ته زما پیام ورکړه چې دژوند په اخرنیو شیبو کې یوو او موږنه غلطې وشوه موږ دشیطانو ادارو لنځکی وو که ښوک دین سره کارلری نو سیاست کې دې نه ورګډیږی که دین ژغوری نو له سیاست ښخه یې لری وساتی کینی زموږ په ښیر به یې بد حالات کې وي اوداشعر په رښتیا وو چې تاچې ما ازاره وی ازاردی خدای کړه چې له دره مې شړی بی دردخدای کړه ما چې ښومره ظلمونه کړی وو ټول دلته بدله یې راکول کیږی اوهیچ ښه کارمې نه دی کړی یوازی دانسانیت پرخلاف مبارزه نو که طالبانو

زما په خوله کول نو پیام ورکړه چې ټول اسلامی خوځښتونه دغرب دګټوله پاره کارکوی اوبس.

نوره داهم دخبرو کولو حوصله نه درلوده خبره په دې پای ته ورسیده چې "یارزنده صحبت باقی" ما ورته وویل چې زه به بیاهم کوښښ وکړم چې راشم دغه ویده قوم ته دتاسو نوي افکارچې له مرګ وروسته ورسره اشنا کیږی ورسوم، نو ره مې هم غوښتل چې دځینو نورو کسانو سره وګورم خو سپین ږیری راغی او دیر ښښنه یې وغوښته چې بیا به بل ځل اوږد ملاقات کیږی نوره زه هم رابیدارشوم اودسهار دمونځ په طرف راهی شوم.

وما علینا الاالبلاغ المبین.